مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محب‌الله زغم

۲۰۲۳/۰۵/۱۸

«سایه در تاریکي»

او

«سیوری په تیاره کې»

له بده مرغه نن سبا زمور درې ژبې د پښتو ادبیاتو له اثارو ناخبره دي او پښتانه مو په دې نه‌خبرېږي چې په درې او د هېواد په نورو ژبو کې څه لیکل کېږي او څه چاپېږي. وجه یې دا ده چې سیاسي لانجو پر فرهنګي حوزې سیوری غوړولی دی او د مختلفو ژبو د فرهنګیانو ترمنځ یې نالیدونکي پرده خوره کړې ده. زما په ګومان دا د شرم خبره ده چې د خپل وطن د نورو ژبو لیکوال او شاعران نه‌پېژنو او د هغوی اثار مو نه‌دي لوستي. د هېواد د مختلفو ژبو اثار یوې بلې ژبې ته ژباړل هغه څه دي چې دغه پرده شلولای او شته واټن ختمولای شي.
په داسي حالت کې د اغلې نجیبې ایوبي د کیسو ژباړل یو مهم کار دی. د ښاغلي صدیق‌الله بدر دي کور ودان وي چې له دې کار سره د درې ژبې یوه تکړه کیسه‌لیکواله پښتنو ته ورپېژني او د کرغېړنو پولو په رنګولو کې برخه اخلي. البته دا په دې برخه کې یوازینۍ هڅه نه‌ده، بلکې زمور نورو لیکوالو هم په دې وروسیتو کې څو درې کتابونه پښتو کړي دي، مثلاً د ښاغلي رهنورد زریاب «ګلنار و آیینه»، د مولانا جلال‌الدین بلخي «فیه مافیه» او «مثنوي معنوي»، د نادیا انجمن شعرونه، او څو نور اثار. پښتنو د افغانانو د مشر ورور په توګه خپل رسالت تر یوه بریده ترسره کړی دی خو ما تر اوسه د درې ژبو فرهنګیانو ورته اقدام نه‌دی لیدلی.
د اغلې نجیبې ایوبي «سایه در تاریکي» مې کال یونیم مخکې لوستې وه او له ښه مرغه دا دی پښتو ژباړه یې هم لولو. ما چې د دې ټولګي پارسي ښه لوستې وه، تر هرڅه زیات مې په کې د کیسو ژبه خوښه شوې وه. مېرمن ایوبي تر ډېره بریده سوچه افغاني پارسي ژبه کارولې ده، په ټېره بیا مکالمې یې دومره خوندورې وې چې ما ته یې د اروښاد ډاکتر اکرم عثمان کیسې رایادولې. له بده مرغه د کیسو دغه تر ټولو مهم اړخ په ژباړه کې ضایع شوی دی. البته په دې کې ژباړن ډېر نه‌شو ګرمولای. په پارسي کې د وینا او لیکلو ژبې سره یو شان نه‌دي. لیکل کېږي: «تشنه شده ام، برایم آب بده» خو په وینا کې ویل کېږي: «تشنه شدیم، برم او بتي». مور پوهېږو چې مکالمې باید واقعي خبرو اترو ته نژدې یا کټ مټ هماغسي وي نو که په پارسي کیسه کې په معیار برابره مکالمه لیکو، د واقعي خبرو اترو تنده مو پرې ماتېږي او خوند تري اخلو خو په پښتو کې د ژبې لیکلي ښه له وینا څخه چنداني توپیر نه‌لري نو ځکه ژباړن ته سخته ده چې دا کمال په ژباړه کې وساتي. البته ځینې ټکي شته چې په پښتو کې هم وینا له لیکنې بېلوي مثلاً په وینا کې کله کله د فعل یوه برخه یا یو توری غورځول کېږي. د بېلګې په توګه: «خبرې وکه = خبرې وکړه، هغه مې خبر کړی = هغه مې خبر کړی دی، دغه کتاب

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

يې لوستی = دغه کتاب يې لوستی دی، کار کيې = کار کوي ...» همدارنګه کله کله په وينا کې د غايب شخص لپاره کمزوری ضمير «يې» له مخکينۍ کلمې سره نښلول کيږي: ځينې خلک د «سم به يې کړم» او «څه يې کوې» پرځای وايي: «سم بې کم» او «څې کيې».
دا شی راته ښيي چې د ادبي اثر ژباړه څومره باريکۍ لري. ژباړه د شعر يا کيسې جسم لپردوي خو روح يې ځنې پاتې کيږي. دا ډېره سخته ده چې د جملو آهنګ او د کلمو موسيقي وژباړو. د کلمو ضمني او استعاري مانا په اسانه نه ژباړل کيږي. د همدې ټولګي په يوه کيسه کې نجلۍ «ماتو» نومېږي چې پارسي کې د سپوږمۍ مانا لري او په يوه مکالمه کې راغلې ده چې «ماتو خو ماتو اس خو اګه ده شو برايه ماتو جان ميشه» خو په پښتو ژباړه کې «ماتو» د خاص نوم په توګه دغه ضمني مانا نه‌لري. دلته دا پوښتنه مطرح کيږي چې ايا ژباړن کولای شي د ضرورت پر مهال د کرکټر نوم يا بل خاص نوم هم وژباړي که نه؟
د ښاغلي صديق‌الله بدر په ګوتو دې برکت وي چې د دې ټولګي په ژباړلو کې يې پوره خواري کړې ده. تاسي به هم دا راسره ومنئ چې دغه ژباړه تر ډېره بريده په روانه، اسانه او خوندوره پښتو شوې ده. البته يو نيم ځای سړی دا احساسوي چې ښاغلی بدر د مبدا ژبې له اغېزې نه دی وتلی او کله کله د اصلي متن جوړښت ته ډېر وفادار پاتې شوی دی.
مېرمن نجيبې ايوبي ته په پښتو کې د دې اثر د چاپيدو مبارکي وايم او هيله مي ده چې دا لړۍ همداسې روانه پاتې شي، بلکې لا پراخه او لا ګړندۍ شي. او په دې تمه چې په دري کې هم د پښتو اثارو ژباړې وګورو.

مينه او درنښت
محب الله زغم
11.19.2016 کابل، چهلستون

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ